مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید
۲۰۲۶/۰۶/۱۶

# د افراط او تفریط ترمنځ ټکر

## او زموږ سلیقوي چلن

افغانستان له هغو هېوادونو څخه دی چې د وروستیو پنځو لسیزو په اوږدو کې یې بدبختانه د نظامونو د نسکوریدو، یرغلونو، سیاسي بېثباتي، پردیو لاسوهنو او کورنیو جګړو له امله زخمونه او دردونه زغملی دی. نن هم په هېواد کې لکه د پرون په څیر ستونځې، نیمګړتیاوې، محرومیتونه او نارضایتي شتون لري، خو اړخونه رنګونه، ډولونه او زموږ سلیقې بدلې دي. افغانان حق لري چې د خپلو ستونځو، غوښتنو او اندېښنو په اړه داسې سوله ییز غبرګون وښيي چې د هرې ټولنې د ویښتابه نښه او د سمون غوښتنې مدني هڅه ګڼل کېږي.

مهمه دا ده چې د افغان ولس له مشروع غوښتنو او مدني غبرګونونو څخه د سیاسي نیرنګ په ډول د سیاسي موخو او بهرنیو اجنډاوو لپاره ګټه پورته نکړای شي او له ولسي نارضایتونو څخه باید د بهرنیو لاسوهنو او تبلیغاتي ماشینونو له لارې د سیاسي فشار د وسیلې په توګه کار وانخیستل شي. د تاریخ په اوږدو کې د خلکو سوچه مبارزه ډېر ځله د خپلو او پردیو لخوا د ابزارو په توګه کارول شوې، نه خلکو خپلو حقونه ترلاسه کړي، نه هم هېواد د ثبات خواته تللی دی او اوس د همدغه کرغیړن تاریخ تکرار قطعاً نه غواړي. راځئ د خپلو تیرو سهوو ارزونه وکړو او د نسکوریدو څخه وړاندې فکر وکړو چې ایا په مقایسوي توګه بهتر بدیل لرو؟ ځواب یقیناً "نه" دی.

له اوسني بن بست څخه راوتل، اصلاحات رامنځته کول، د عدالت لټون او غوره حکومتولي د هرافغان غوښتنه ده، خو بدبختانه دغه غوښتنې ډېری وختونه د نورو لخوا د سیاسي رقابتونو، ایدیولوژیکو شخړو او بهرنیو لاسوهنو تر سیوري لاندې پاتې شوې او د سترو سیاسي لوبو برخه ګرزیدلې دي. همدا لامل دی چې د افغانانو مبارزه د تېرو پنځو لسیزو په اوږدو کې څو ځله د خپلو او پردیو له خوا د ابزارو په توګه کارول شوې دي او ډېری وخت یې لا زیاتې ناخوالې او نوې کړکېچونه راپارولي دي.

د دغو ستونځو تر څنګ زموږ په ټولنیز او سیاسي چلن کې بله مهمه ځانګړنه هم شته چې د وضعیت د لا پیچلتیا لامل ګرزي، او هغه د افراط او تفریط اړخونو ته زموږ ټولنیز ذهني تمایل دی. افغانان په ډېرو برخو کې د اعتدال له پولو څخه اوړي، د افراط او تفریط لوري نیسي. که دوستي وي او که دښمني، که سیاست وي او که ټولنیزې چارې، که دین وي او که له دین سره مخالفت، موږ ډېر ځله د متوازن قضاوت پر ځای احساساتي دریزونه غوره کوو. له اشخاصو او مشرانو سره زموږ چلن تر ډېره د هغوی د وړتیاو او کړنو د ارزونې پر ځای له هغوی څخه د ړوند تقلید له مخې مطلق ملاتړ یا مطلق مخالفت بڼه لري. واقعیت دادی چې نه پرون هرڅه سم وو او نه هم نن هر څه بد دي خو موږ د ارزونو دود نه لرو او مطلقاً سلیقوي چلن خوښوو.

کله چې د کوم سیاسي مشر ملاتړ کوو، نو حتی شرموونکې تېروتنې یې هم توجیه کوو، هره پرېکړه او هره کړنه یې د حکمت او تدبیر نښه ګڼو او منفي شاخصونه یې د دښمنانو تبلیغات کڼو؛ خو کله چې ورسره مخالف شو، نو بیا یې نه یوازې سیاسي دریزونه، بلکې ټول شخصیت تر پوښتنې لاندې راوړو، او کله ناکله یې شخصي حریم ته هم د ننوتلو هڅه کوو. شرعي حجاب له شک پرته دیني اصل دی او رعایت یې د هر مسلمان وجیبه ده، خو که حکومت د حجاب په رعایت کې افراط کوي نو مخالفین یې د لازمي شرعي حجاب مخالفت ته هم ملاتړي. که یو اړخ د ښځو حقه حقوق ترپښو لاندې کوي نو مخالفه ډله یې اخلاقي انحرافات هم د بشري ازادي په کتګوري کی حسابوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

زموږ په سیاسي او ټولنیز کلتور کې اعتدال نشته. مشران یا مطلق اتلان وي او یا مطلق خائنان، حال دا چې واقعیت تر دې ډېر پېچلی او بل ډول وي.

همدغه افراطي لیدلوری د دې لامل شوی چې موږ ډېر ځله د اصولو، ارزښتونو، کړنو او د محاسبې د اصولو له مخې نه بلکې د ړوند تقلید له مخې د سیاستوالو ترشا دریږو. د اعمالو نه بلکې د اشخاصو ستاینه او غندنه زموږ د سیاسي قضاوت محور ګرزیدلی ، حال دا چې د سالمې ټولنې بنسټ باید پر اصولو، عدالت، حساب ورکونې او ملي ګټو پر بنسټ ولاړ وي. کله چې اشخاص معیار شي، نو لکه زموږ په شان ټولنه د شخصیت پرستې ژبپالنې او قوم پالنې  په جال کې نښلي؛ خو کله چې اشخاص د حق او اصولو په تله کې و ارزول شي، نو د اصلاح او پرمختګ دروازې پرانیستل کیږي.

د دغو ستونځو د حل لپاره تر هر څه وړاندې د فکري اعتدال، زغم او د انتقادي فکر منلو او رواجولو دود ته اړتیا ده. موږ باید زده کړو چې د یوه شخص یا ډلې ملاتړ کول د هغوی د ټولو کړنو د تایید معنا نه لري، او مخالفت هم د هغوی د ټولو ښو کارونو څخه د انکار جواز نه برابروي.  د احساساتو پر ځای باید واقعیتونو ته وګورو، د تعصب پر ځای استدلال ته ځای ورکړو، او د اشخاصو پر ځای اصول د قضاوت معیار وګرزوو. هره پرېکړه، هره کړنه او هر سیاسي دریز باید داسې وارزول شي چې د هېواد او ولس لپاره څه پایله لري، نه دا چې د چا له لوري وړاندې شوی دی.

د هرې سیاسي، ټولنیزې یا مدني مبارزې مشروعیت او کریډیټ تر ډېره په هغو خلکو پورې تړاو لري چې د ستونځو په ډګر کې ژوند کوي، د مبارزې سختې زغمي او د بدلون لپاره عملي ګامونه پورته کوي. له همدې امله، د مبارزې په ډګر کې ولاړ کسان یقیناً کولای شي د خپل ابتکار، تجربې او واقعي درک پر بنسټ د خپلو حرکتونو او پرېکړو واک په خپل لاس کې ولري. هغه کسان چې له ډګر څخه لېرې او د لمړۍ کرښې مبارزین نه وي،  خپل نظرونه، تجربې او مشورې شریکې کړي، خو دَ ترصیو او لارښوونو نوښت په معاصر سیاسي فکر کې د ستاینې وړ تګلاره نه ګڼل کیږي. تلپاتې او بریالی بدلون هغه وخت رامنځته کیږي چې د مبارزې رهبري د هماغو خلکو په لاس کې وي چې مستقیم لګښتونه او پایلې یې پر خپلو اوږو وړي، او له بهر څخه ملاتړ د لارښوونې او توصیو په ډول نه بلکې د مشورې او همکاري بڼه باید ولري.

په پایله کې، افغانستان پرون هم اصلاحاتو، عدالت او ښه حکومتولي ته اړتیا درلوده، نن یې هم لري او سبا ته به هم د نظامونو نسکوریدل نه، بلکې د سمون او بدلون لپاره مدني مبارزه د بریا یوازنۍ لاره وي. د سمون او بدلون سلسله پای نه لري، او افغانان حق لري چې خپلې غوښتنې په مدني او سوله‌ییز ډول مطرح کړي. خو د دې ترڅنګ باید د تاریخ له تکراري تېروتنو څخه هم زده کړه وشي. د خلکو له مشروع او مدني مبارزو له حق څخه د سیاسي او بهرنیو موخو لپاره ګټه پورته نه کړای شي، او نه هم باید موږ خپله د افراط او تفریط په جال کې ایسار پاتې شو. د افغانستان راتلونکی به هغه وخت روښانه شي چې د اشخاصو پر ځای اصولو ته، د احساساتو پر ځای واقعیتونو ته، او د افراطیت پر ځای اعتدال او انصاف ته لومړیتوب ورکړل شي او حساب ورکول د ملاتړ معیار وګڼل شي . همدغه فکري بدلون کولای شي د یوې پرمختللي سیاسي ټولنې، ملي تفاهم او تلپاتې ثبات لپاره بنسټ کیږدي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ